لاتـــر اوســـه ئـــې قـــرار مونـــدلے نـــهٔ دے
هسـې رنـګ مـې دي ویښ سـتړي خوبونـه

# ویښ خوبونه

چې یو دیرش کاله پس لانن هم ,, ویښ ،، پاتې دي

لائق زاده لائق

## کتاب پېژندنه


دا کتاب ـــــــ وينښ خوبونه

ليکوال ـــــــ لايق زاده لايق

کمپوزنګ ـــــــ ارشاد خان پښتو اکېډمي پېښور

ورومبے چاپ ـــــــ ۱۹۸۱ء

دويم چاپ ـــــــ ۲۰۱۲ ء

شمېر ـــــــ ۵۰۰

بيعه ـــــــ ۱۵۰ روپۍ

چاپ ځائے ـــــــ ضياء پرنټرز پېښور

### د ملاوېدو درک

- يونيورسټي بک ايجنسي خېبربازار پېښور ښار
- د پښتو اکېډيمۍ د کتابونو دُکان پېښور يونيورسټي او ددې ترڅنګه د کتابونو هر لوئے دوکان

# تړون

- د کراچۍ د ښائستونو په نوم چې هر څوک پکښې د ځان په لټون ورک دے۔
- د خپلو هاغه یارانو په نوم چې زما په جذبو پوهیږي۔
- د کراچۍ یونیورسټۍ د هاغه مازیګرو په نوم چې مونږ ورکښې یو بل ته د زړونو حالونه وایو۔
- او د هر څۀ نه زیات د خپلو هاغه خړ سرو پښتنو په نوم چې د کراچۍ په دشتو کښې د خپل کور کلي خوبونهویني۔

لایق زاده لایق
کراچۍ
۱۳ مارچ ۱۹۸۱ء

# د مدین نه
# تر
# کراچۍ پورې

ما ډېر پخوا د کراچۍ خوبونه لیدلي وو ـ دا ځکه چې زمونږ د کلي یو شمېر خلق به چې کله په کور کلي کښې تنګ شول نو د کراچۍ مخه به ئې اوکړه ـ زۀ په دې راز نۀ پوهیدم خو چې کله مې دا سندره واؤریده چې :-

لاړ شــه کراچــۍ تــه ډېــرې اوګټــه روپــۍ
چــې پــه محلـت کښــې شــمه زۀ د ســیالۍ

نو پوهه به شوم چې هو .... مونږ پښتانۀ غریبانان یُو ـ زمونږ د ټولو نه لویه مسئله اقتصادي مسئله ده ـ مونږ خپل کلي هم په دې غرض پریږدو چې دوه پیسې اوګټو ـ خو زما په ذهن کښې دا خبره بالکل نۀ راتله ـ ما چې کله په کال ۱۹۷۹ء کښې د څوارلسم جومات پاس کړو نو د خپل استاد قادر خان صیب نه مې تپوس اوکړو چې وړاندې څۀ اوکړم ـ ځکه چې ما نۀ د پېښور لارې لیدلې وې او نۀ د کراچۍ ـ خلقو به وئیل چې کراچۍ کښې سبق اسان دے او په دوه کاله کښې د وکالت

ډگري هم ملاويږي او شپاړسم هم ـ زما د وکالت سره مينه نهٔ وه البته پلار مې راته وئيل چې سبق پرې نهٔ ږدې ـ

قادر خان صيب راته خبره لنډهٔ کړه ـ چې سترگې پټې کړه او کراچۍ يونيورسټۍ ته لاړ شه ـ ما د هغه سترگو ته حېران حېران کتل چې د ے ماله د پېښور يونيورسټۍ مشوره ولې نهٔ راکوي ـ خو ... هغه پوهيدو ـ راته ئې اووے چې په کراچۍ کښې به نهٔ صرف د خپل ټول ملک د ثقافتونو سره اشنا شې بلکه د خارجي هېوادونو د رويو پته به درته هم اولگي ـ هغه انټرنيشنل يونيورسټي ده ـ

استاد استاد وي ـ ما چې کله کراچۍ ته د تلو فېصله اوکړه نو خپله نزدې ملگرو شجاع الله او نورو سره مې رابطې اوکړې ـ شجاع الله د فتح پور سوات اوسيدونکے د ے او زما د کلاس ملگر ے د ے ـ هغه راته د خپل ورور ډاکټر انور پته راکړه ـ او چې زما زړهٔ ډاډه شو نو بيا د جدايۍ لمحې راغلې زهٔ کهٔ يو خوا د خپل هاغه عظيم پلار نه بيليدم چې په خپله ئې ليک لوست نهٔ وو کړ ے خو د وخت په غوښتنو پوهيدو ـ نو بل خوا رانه د کلي ډېر ملگري پاتې کيدل ـ هاغه ملگري چې ما سره ئې شپې صبا کړې وې ـ محمد قوي جان ، مقصود ، احترام ، حسين جان ، محمد جعفر او نور ډېر ـ هغوي ته زما د

زړۀ رازونـه معلـوم وو ـ زمـا د مامـا زامـن شـیر بهـادر خـان ، حسین انور چې زما ملګرے هم دے ماته په مخه ښه وئیلو لـه راغلي وو ـ ځکه چې زۀ پـه مسـافرۍ روان ووم ـ زۀ چې بس تـه اوختم نو په اخري نظر مې خپل کلي ته اوکتـل ـ ماتـه د کلي پـه لارو کوڅو کښـې خپـل ماشوم والے هـم ښـکاره شـو ـ او هاغـه لېونۍ مینـه هـم چې زمـا پـه خاموشـه ژونـد کښـې ئـې انقـلاب راوستے وو ـ چې زۀ ئې د ځان سره اشنا کړے ووم ـ او مـا تـه ئـې د خپلو جذبو او اظهار چلونـه ښودلي وو ـ مـا ځومره اوژړل ـ دا یو بیـل داستـان دے ـ خو ... دا د هغـې هـم خوښـه ده چې زۀ دې سبق اووایم خو ما ته د خپل منزل هېڅ پته نۀ وه ـ

کراچـۍ تـه د رارسـیدو نـه پـس پـه تپـوس تپـوس زۀ د ډاکټر انور خواله را اورسیدم ـ ډاکټر انور زما سره دومـره مینـه اوکړه چې ما ئې تصور هم نۀ وو کـړے ـ هـر سـحر بـه راسـره پـه بـس کښـې روان شـو ـ او پـه یونیورسټـۍ کښـې بـه ئـې زمـا پـه داخلې پسـې منډې وهلـې ... نـن .... زۀ د سیاسیاتو د شعبې طالب علم یم ـ چې کله هم کلاس ته ننوځم ـ نو په هر قدم راتـه د ګران قادر خان صیب خبره مخې ته راځي ـ چې هو ... زۀ په هره لمحه ژونـد ویـنم ـ ماتـه دا کراچـۍ داسې ښـکاري لکـه چې دا زما نه ورکه وه ـ دلتـه د پښتون او مهـاجر تـر مینځـه د کرکـې او

جدايۍ تصور هم نشته .زما سره په کلاس کښې اکثر ملګري او ملګرې مهاجر دي .چې کله مازيګر شي نو د فرنټيئر کالوني د نزدې محلې ماشومان ماته راغونډ شي .زۀ ورته سبق وايم او چې اوزګار شم نو د پرويز ماما ، عبدالرحيم ماما او محمد زمين ماما سره ګپونه لګوم .دا ټول د فتح پور اوسيدونکي دي .لکه څنګه چې زمونږ د کلي مدين او فتح پور تر مينځه فاصله نشته دغه رنګ زمونږ تر مينځه د مينې جذبې هم ځوانې دي.

مونږ کله کله چکرو له هم ځو .تاج ملوک چې ځان ته وکيل وائي د هرچانه مخکښې مخکښې وي.دغه رنګ نثار ، رشيد او رشاد هم زما د محفل ملګري دي او بيا د ډاکټر انور د ترۀ زامن شجاعت ، کرامت خو ما ورور ګڼي .بيخي لکه د خپل ورور او دغه احساس ماله ډاډ راکوي.د دوي کشر ورور شرافت زما نه باقاعده زده کړه کوي.دا هر څۀ لکه چې زما نه ورک وو خو چې کله هم د ماښام لړې خورېږي زما په زړۀ د خپل کلي يادونه راورېږي.زۀ خوبونه وينم او په دغه هر خوب کښې راته د چاغتې غټې سترګې مخې ته اودرېږي .چې په هر ځل راته وائي چې ,,بس که کلي ته راځه....،، ځکه چې اوس خو هاغه خبرې ماپه خپله پښتو ربښتيا کړي دي.ما خو بغاوت

کړے دے ما خو رواجونه پریښي دي ـ تهٔ به تر څو په کراچۍ کښې ناست ئې ـ او بیا ستا څهٔ پته لګي شاعر سړے ئې که خدائے مه که زما په مینه دې بل چا ته اوکتل نو ... بیا او هن رښتیا ما خو د یونیورسټۍ د جینکو سره ستا هاغه عکسونه هم لیدلي دي ... دا څوک دي؟ ما سره ددې سوالونو جوابونه نشته ـ ځکه د مینې جذبې ډېرې نازکې وي ـ او زهٔ نهٔ غواړم چې د خپلې لېونۍ د زړهٔ امتحان واخلم ـ

بس د خپلو ,, ویښو خوبونو ،، د تعبیر دپاره لفظونه لټوم ـ او چې کله لفظونه ناقراره شي نو شعرونه شي ـ زهٔ د شعرونو په ژبه د خپلو لېونو جذبو اظهار کوم ـ نهٔ پوهېږم چې د پښتو پوهه او استاذان شاعران به ورته څنګه ګوري ـ البته دوه کاله وړاندې چې کله زهٔ په جهانزیب کالج کښې ووم او د پښتو د غزل بابا مینګوره کښې د یو څو ورځو دپاره مېشتهٔ وو نو ما د هغهٔ روحاني پلوشو کښې ځان لیدلے وو ـ بابا ... ډېر عظیم انسان دے ـ هغه لکه د نورو لیکوالو د چا زړهٔ نهٔ ماتوي ـ هر چا ته ډاډ ورکوي او هم دغه ډاډ دے چې زما ویښو خوبونو ته ئې د اظهار ژبه خودلې ده ـ

صبا له چې حالات بدل وي نو زهٔ نهٔ پوهېږم چې زهٔ به د ژوند په کومه لاره روان یم خو په دې پوهېږم چې دا لېوني

خوبونه به زما د کراچۍ د ورځو شپو ...زما د کراچۍ د ځنې ښۀ ملګرو لکه شیرزمان، فقیر احمد ، اویس خان ، محمد وقار ، شبیراحمد ، عبیدالله وزیر ، محمود احمد ، ګل نائب بکه خیل ، رحمت الله وزیر، اقبال علي ، شبیر خان ، انجنئیر ولي ، سرفراز خان او نورو ډېرو یادونه تازه کوي۔

زۀ خپله دغه لیکنه د کراچۍ په نوم په دغه شعرونو راغونډوم چې :-

چې د امن مینې کور دے کراچۍ ده
چې زما د جذبو شور دے کراچۍ ده
چې زما خوارۀ یاران پکښې اوسیږي
چې زما د زړۀ ټکور دے کراچۍ ده
چې د چا په یاد کښې وینښ مې دي خوبونه
چې مې خیال پکښې ټکور دے کراچۍ ده
دغه مینه چرې مۀ شه له نظره
چې ښائست پکښې سمسور دے کراچۍ ده

په ټوله ټوله مینه

لایق زاده لایق

دسیاسیاتو شعبه کراچۍ پوهنتون

۲۵ اپریل ۱۹۸۲ء

# ويښ خوبونه

## دوه ديرش کاله پس

وخت څومره زر تېر شو ـ زۀ پرون د شلو کالو ووم ـ چې خوبونه مې ويښ وو ـ نن مې عمر دوه پنځوس کاله دے ـ زما د ژوند هاغه ټول ياران ټول ملګري تار په تار شوي دي ـ خو زۀ لااوس هم په هاغه پړاؤ اټاله ولاړ يم ـ چې سترګې پټې کړم نو دا ټول وختونه مې د ذهن په پرده لکه ژوندو کردارونوچورلکونه خوري ـ کله کله وايم چې دا يو خو،ب دے چې زۀ ئې لکه د پرون نن هم وينم ـ

ما دغه هر څۀ په دوېم ځل ځکه چاپ ته اوسپارل چې ددې کتاب ورمبے ايډيشن دېر کاله وړاندې وختونو په خپلو ګردونو کښې پټ کړے دے ـ دا چاپ به د پرون قيصې بيا تازه کړي ـ ځکه چې زما خوبونه لاتر ننه ويښ دي ـ ـ ـ ـ نيمګړي او نيمه خوا خوبونه ـ چې زۀ ئې لاد تعبير په انتظار يم ـ

مـودې اوشـوې چـې لېمـو کښـې غړيـږي
,, ويښ خوبونـه ،، نـاقراره سـترړي سـترړي

لايق زاده لايق

# حمد پاک

چې په هر چا مهربان دے زما رب دے
چې تول عمر جاودان دے زما رب دے
د دنیا په مخ چې څومره مخلوقات دي
د هر چا روزي رسان دے زما رب دے
که ښائست دے که د حُسن نغمګي ده
چې په هر ځۀ کښې عیان دے زما رب دے
کل صفات ئې د وفا او محبت دي
چې رحیم دے هم رحمان دے زما رب دے
چې هر امر ئې تکمیل د بندګۍ دے
چې تکمیل مې د ایمان دے زما رب دے
دا چې زۀ ئې د قلم سره اشنا کړم
چې همه احسان احسان دے زما رب دے

☸ ځائے : فرنټئیر کالوني کراچۍ
☸ نېټه : ۲ اګست ۱۹۸۱ء

# نعت شریف

چې مې سترګو کښې غږیږي ستا حرم دے
چې هر وخت راته یادیږي ستا حرم دے
ستا د نور او ستا نوم له برکته
چې انوار پرې راوریږي ستا حرم دے
فرښتې چې ئې عظمت ته حیرانیږي
چې وختونه پرې نازیږي ستا حرم دے
چې دیدار مې شوے نصیب تر عمره عمره
چې مې زړۀ پسې خوږیږي ستا حرم دے
زۀ چې کله هم خفه شمه زهیر شم
چې مې زړۀ پرې ټکوریږي ستا حرم دے
دا رښتیا دي ثاني نۀ لري لایقه
لکه شمع چې بلیږي ستا حرم دے
صلوعلیه واله

* ځائے : فرنټئیر کالوني کراچۍ
* نېټه :- ۲ اګست ۱۹۸۱ء

# مور

زۀ چې ستړګې کړمه پټې تنهایۍ کښې
مورې ستا تصویر لیمو کښې جوړومه
بې له تا یمه نیمګړې پاتې شوې
نۀ پوهیږم ژوند به څنګه تیرومه

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نیټه :- ۵ اپریل ۱۹۸۰ء

# پلار

چې دخپلې ځوانۍ عکس پکښې ليدے شم
تـــهٔ زمـــا د فکـــر هاغـــه آئينـــه ئـــې
باباجانــــه احتــــرام دې عبـــادت دے
تـــهٔ زمـــا د لېوتتـــوب جګـــه شـــمله ئـــې

✵ ځائے : يونيورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۵ اپريل ۱۹۸۰ء

# کلفټن

هــر طــرف تــه رنګینــۍ راغونــډې شــوې
زۀ په هر رنګ کښې دا ستا عکسونه ګورم
ارمانونــه مــې راغونــډ دي پــه ککــو کښــې
خپــل تعبیــر لــه د ښائســت رنګونــه ګــورم

✵ ځائے : د کلفټن کراچۍ د سیل په موقع
✵ نېټه :- ۲۷ اپریل ۱۹۸۰ء

# کراچۍ

دلتــه ژونــد پــه منــډه زغلــي نــۀ اودریــږي
هر ســړے پکښــې د ځــان پــه لټــون ورک د ے
د چا سترګې راته مخکښې مخکښې کیږي
تصــور مــې د ارمــان پــه لټــون ورک د ے

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نیټه :- ۱۲ ستمبر ۱۹۸۰ء

○

چرته لاړې اے صنمه
هله راشه ګنې مرمه
که په خوله مې راتلے نۀ شې
خو په زړۀ کښې دې ساتمه
زندګي کله تیرېږي
لیونی بې ستا د غمه
زۀ به درشم خفه نۀ شې
ننګ د مینې به پالمه
د جنون منزل ته رسم
چې په کومه لاره ځمه
حال د زړۀ مې ښکاره نۀ کړې
اے زما د سترګو نمه
زۀ لایق دې لیونے کړم
ستا په مینه قسم خورمه

---

※ ځائے : فرنټئیر کالوني
※ نېټه :- ۷ اپریل ۱۹۸۰ء

○

خــوب د مینـــې رښــتیا کیــږي
لېــــونۍ بــــه زمــــا کیــــږي
چې ستا نـوم مې پـه خولـه راشي
بــــې اختیـــاره دعـــا کیــــږي
چــــې مــــخ اړوي لــــه مانــــه
خامخــــا بــــه رضــــا کیــــږي
چــې مــې زړهٔ کلــه خفــه شــي
خاموشـــي مـــې ګویـــا کیــږي
ښــکته اوګــوري مســکۍ شــي
چــې لــه مــا نــه جــدا کیــږي
د هجــران پــه تــوره شــپه کښــې
معلــــومیږي رڼــــا کیــــږي
چـــې لایقـــه زړهٔ پاګـــل شـــې
ارمانونــــه رســــوا کیــــږي

* ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
* نېټه :- ۲ مئی ۱۹۸۰ء

○

چې په زړۀ کښې مې مسکي شي ارمانونه
تـرې نـه جـوړ شـي سـتـا د حُسـن تصـويرونه
کـه هـر څـو د رنګينـو پـه ښـار کښـې ګـرځم
هيـــر مـــې نـــۀ دي د خپـــل کلـــي چنارونـــه
ســـتا لوظونـــه چـــې رايـــاد کـــړم کلـــه کلـــه
زړۀ زمـــا کـــوي خـــوارۀ خـــوارۀ دردونـــه
زمـــا مينـــه چـــې پـــه هېـــره هېـــره نـــۀ کـــړې
لېونتوبـــــه دا مـــــې اومنـــــه ســـــوالونه
ســـتا د ســـترګو پـــه ککوکښـــې پټ اودۀ دي
زمـــــا ســـــترې نـــــاقراره ماښـــــامونه
هلـــه راشـــه لايـــق ســـتا پـــه انتظـــار دے
دي نيمګـــــړي د غـــــزل ئـــــې تنابونـــــه

✵ ځائے : په کلاس روم کښې
✵ نېټه :- ۷ مئی ۱۹۸۰ء

○

ما پـه تـا کـړے اعتبـار دے
ځکـه عمـر مـې پـه دار دے

دواړه ستا پـه شـونډو خونـد کـړي
کـه اقـرار دے کـه انکـار دے

هـر قـدم چـې شـاته ګـورم
زمـا تاتـه انتظـار دے

برداشـت کـړے هـر سـتم مـې
سـتا لـه مخـه وار پـه وار دے

لایـق سـتاد ے بـاور اوکـه
سـتا پـه پاکـه مینـې زار دے

* نېټه :- ۱۲ مئی ۱۹۸۰ء

○

جانانــــه مانــــه کلــــې کــــور پــــاتې دے
ســــتا محبــــت راتــــه پېغــــور پــــاتې دے
هغــــه چــــې تــــۀ بــــه پــــرې راتلــــې لېــــونے
لامــــې نظــــر پــــه هاغــــه لــــور پــــاتې دے
د صــــــبريدو خبــــــرې ځلــــــه کــــــوې
لاخــو پــه وينــه کښــې مــې شــور پــاتې دے
د جــــدايۍ پــــه ســــرو لمبــــو کښــــې مانــــه
د خپلــــو تــــورو ســــترګو تــــور پــــاتې دے
لا د پښــــتون پــــه دې ايــــره جــــذبو کښــــې
د لېونــــــــو بڅــــــــرو اور پــــــــاتې دے
څنــــګ بــــه وختونــــو لــــه جــــواب ورکــــوؤ
چــې لامــاتم مــو کــور پــه کــور پــاتې دے
نــــۀ مــــې ارمــــان قــــرار کــــوې لايقــــه
نــــۀ مــــې زړا کښــــې هاغــــه زور پــــاتې دے

---

✵ ځائے : يونيورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۲۲ مئی ۱۹۸۱ء

○

چې ملګرې مې ستا غم دے
زړه زما قلم دے
ما دا ستا د یاد په څلي
همیشه کړې ماتم دے
ستا د سترګو نه قربان شه
که مې دم که مې قدم دے
ستا په زلفو کښې ښۀ ښکاري
که ګلاب دے که شړشم دے
چې د زړۀ تارونه چیړي
محبت دي زیر و بم دے
د چا مینه کښې لایقه
زما خیال صنم صنم دے

---

✵ ځائے : ملیر کینټ
✵ نېټه :- ۱۳ جون ۱۹۸۱ء

○

زهٔ چې ستا د لارې مل شوم
نو جانانه مکمل شوم

چې د مينې دام کښې ګير شوم
که بدل نهٔ ووم بدل شوم

چې پردے شومه له ځانه
نهٔ پوهيږم د چا خپل شوم

اوس به کوم طرف ته لاړ شم
چې قيدي دې ول په ول شوم

چې رسوا شومه لايقه
په ځان پوهه سل په سل شوم

✵ ځائے : فرنټيئر کالوني
✵ نېټه :- ۲۸ جون ۱۹۸۱ء

○

دربــه شــم جانانــه انتظــار اوکــه
ســتایمه پــه مــا بانــدې اعتبــار اوکــه

څــومره پــه زړګــي ســورے ســورے یمــه
راشــه کنــه اوګــوره لــږ شــمار اوکــه
ګــوره لېونتوبــه وارخطــا نشــې
اوخانــده د دار پــه ســر اقــرار اوکــه
زار بــه شــمه ســتا پــه مینــه زار بــه شــم
لــږ پــه کــاڼي زړۀ کښــې راتــه لار اوکــه
دا پــردے مــاحول پــردے پــردے وطــن
پــټ مــې پــه لیمــو کښــې کــه تلــوار اوکــه

هاغــه د خپــل کلــي مینــه یــاده کــړه
چغــې کــړه لایقــه یکــه زار اوکــه

* ځائے : هاکس بے کراچي
* نېټه :- ۲۹ جون ۱۹۸۱ء

○

اور مـــې پـــه خوبونـــو لګيـــدلے دے
خـوب مـې د ليمـو نـه تښـتيدلے دے

دا لېـونے زړۀ مـې سـتا پـه مينـه کښـې
بيـــا بيـــا ژړيـــدلے کړيـــدلے دے

بيـــا مـــې د رقيـــب ســـره ليـــدلې ده
بيـا مـې نـن ارمـان پـه دار خـتلے دے

سـتا هاغه تصـويرمې پـه سـلګو سـلګو
بيـا بيـا پـه سـينې پـورې نيـولے دے

دغـــه ښـــار لايقـــه د رنګونـــو دے
دلتـــه حُســـن هـــر خـــوا غوړيـــدلے دے

❃ ځائے : ناظم آباد کراچي
❃ نېټه :- ۲۰ ستمبر ۱۹۸۰ء

○

ځــۂ مـــې خپلـــې مجبـــورۍ خـــوري
ځـــۂ مــــې درد د تنهـــايۍ خــــوري
تـــۂ د نـــاز پـــه خــوب اوده ئـــې
مـــا احســـاس د بـــې وســـۍ خـــوري
چـــې خـــوارۀ خـــوارۀ راګـــوري
ټــول خـــوارۀ د زنـــدګۍ خـــوري
لـــه ســـاده حســـن ئـــې زار شـــم
ســـادګي پـــه ســـادګۍ خـــوري
بـــل ځـــۂ غـــم راســـره نشـــته
مـــا بـــس غـــم د لېـــونۍ خـــوري
ځـــۂ يـــوه نـــۂ ده لايقـــه
مـــا دا ټـــولې محرومـــۍ خـــوري

❋ ځائے : اردو لاء كالج كراچي
❋ نېټه :- ۲۳ ستمبر ۱۹۸۱ء

○

نن مې ډېره رايادېږي دا څۀ چل دے
په ژوندون مې راوريږي دا څۀ چل دے
نن چې کوم طرف ته ګورمه جانانه
راته سيورے سيورے کېږي دا څۀ چل دے
چې مې څومره لېونے عمر تيريږي
لېونۍ مينه زياتيږي دا څۀ چل دے
تنهايۍ کښې غلے غلے په جذبو مې
لېونتوبه راخوريږي دا څۀ چل دے
لکه څنګه چې له تا نه نۀ هيريږم
داسې تۀ مې نۀ هيريږې دا څۀ چل دے
زۀ لايق چې تا ته حال د زړګي وايم
ښکته اوګورې شرميږې دا څۀ چل دے

✵ ځائے : فرنټئير کالوني
✵ نېټه :- ۱۴ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

کــه هــر څــو مــې زړۀ نــادان دے
خـــو پـــه تـــا بانـــدې قربـــان دے
تولــه شــپه مــې ســتا پــه يــاد کښــې
اوښـــــکو کــــړے چراغـــــان دے
غتـــې ســـترګې تېــرۀ وروځـــې
تصـــــور مـــــې پــــرې ودان دے
ترینـــــه دواړه صــــــدقه شـــــه
کــه مــې روح دے کــه مــې ځــان دے
لېونتـــوب بـــه مـــې مســـکے شـــي
دا بـــــاور دا مـــــې ايمـــــان دے
لايـــق ســـتا پـــه طمـــع اوســـي
ســـتا ارمـــان ئـــې بـــس ارمـــان دے

٭ ځائے : فرنټئير کالوني کراچي
٭ نېټه :- ۴ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

چې په زړۀ کښې دې ساتمه
پت د مينې دې پالمه
زۀ بل چاته کتے نشم
ستا په حُسن قسم خورمه
ستا يادونه راسره وو
چې په کومه لاره تلمه
دواړه سترګې مې وي ډکې
ستا په ياد کښې ستا په طمع
انتظار دې کړمه سترې
هله راشه ګنې مرمه
که لايق ډېر لرې راغے
بې خودي ئې نشوه کمه

✵ ځائے : يونيورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۵ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

چې خوبونه مې رښتيا شو
ارمانونه مې دعا شو

اوس به څۀ شي مينه پته
چې په کلي کښې رسوا شو

دا اعجاز د محبت دے
چې په يو بل کښې فنا شو

رقيبان دي ګوتې مروړي
مونږ چې خپلو کښې رضا شو

اعتماد مو غاړې ورکړې
چې په تورقو کښې پخلا شو

✵ ځائے : يونيورسټي
✵ نېټه :- ۵ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

چې مې خوبونه د یادونو سره لوبې کوي
دا مې دردونه د زخمونو سره لوبې کوي
ستا تصور چې مې جانانه لرې لرې یوسي
زخمي احساس مې د فکرونو سره لوبې کوي
لکه پتنګ ایره ایره شي د لمبو په غېږ کښې
څوک چې په عشق کښې د اورونو سره لوبې کوي
ګرځي به تول عمر زخمي پرهر پرهر لاسونه
څوک چې د ګل د ډنډرونو سره لوبې کوي
مودې شوې تیرې لاتیریږي ځي په خپله مخه
خو خیال زما د تېر وختونو سره لوبې کوي
زۀ خو د شعر په چل پوهه لاتر اوسه نۀ یم
دا مې غمونه د لفظونو سره لوبې کوي
هره ذره د کائناتو شي ورمه لایقه
چې ئې ښائست د رخسارونو سره لوبې کوي

✵ ځائے : یونیورسټي لائبریري
✵ نېټه :- ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

خیر که لرې ئې زما نه په خوبونو کښې دې وينم
راته سيورے سيورے کيږې په خيالونو کښې دې وينم
د ښائست په هره ساه کښې د رنګونو په ځلا کښې
د ژوندون د هرې لارې قدمونو کښې دې وينم
ددې ښار په هنګامو کښې ددې ښار په شورما شور کښې
زۀ چې کوم طرف ته ګورم ښائستونو کښې دې وينم
لکه پته چې خوشبو وي د ګلونو په وجود کښې
داسې ستا خيال راسره وي په دردونو کښې دې وينم
نۀ پوهيږمه جانانه دا څۀ چل دے په ما شوے
په هر ناز کښې راته ښکارې په مخونو کښې دې وينم
دا ستا نوم چې کله ليکم تصور مې لرې لاړ شي
زۀ لايق ګوره تاته په لفظونو کښې دې وينم

✵ ځائے : يونيورسټي لائبريري
✵ نېټه :- ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

بغيـــر لـــه تـــا دي محفلونـــه پيکـــه
زمـــا د ســـترګي ژونـــد رنګونـــه پيکـــه
رنـــګ چـــې دا ســـتا د حســـن نـــۀ وي پکښـــې
دي مـــې فکرونـــه ټـــول خيالونـــه پيکـــه
دا ســـتا د ذکـــر نـــه بغيـــر جانانـــه
زمـــا د عمـــر ســـحرونه پيکـــه
چـــې ســـتا د زلفـــو دار تـــه اونـــۀ رســـي
شـــي د ګلونـــو رخســـارونه پيکـــه
يـــاره تـــۀ مـــا نـــه تپـــوس ځنګـــه کـــوې
زمـــا دي واړه ارمانونـــه پيکـــه
نـــن شـــومه پوهـــه چـــې رښـــتيا لايقـــه
بغيـــر لـــه مينـــې دي شـــعرونه پيکـــه

---

✵ ځائے : فرنټيئر کالوني کراچي
✵ نيټه :- ۷ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

کله کله چې زړګي مې په درزا شي
تنهائي راته دا وائي اوس به راشي
دا ستا مینه هم جانانه عجیبه ده
کله وهم کله شک کله سودا شي
تا چې اوو ینمه کله په محفل کښې
په احساس باندې خوره زما رڼا شي
څۀ به کم شي خدایه ستا په خدایئ کښې
که زما دا لیونۍ مینه زما شي
جذبې یو شان دي انداز بدل بدل دے
شیربانو کله شیرین کله لیلی شي
محبت څومره اعجاز لري لایقه
چې خود سره لیونتوب پکښې روا شي

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۱۰ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

هر يو خوب مې بې له تانه
ډېر نيمګړې دي جانانه
ددې وران زړګي دنيا مې
ده په تا باندې ودانه
چې ستا خيال مې کله يوسي
کړمه چغې له خفګانه
اخر ته به هم زما شې
زما جانه زما ځانه
هره شپه مې په سلګو کښې
صبا کيږي پريشانه
په احساس مې کوي لوبې
اې د ټول عمر ارمانه
خلق دا وائي لائقه
ده غټ سترګې بلا ورانه

---

✵ ځائې : ګلشن اقبال کراچي
✵ نېټه :- ١١ / اکتوبر ١٩٨١ء

○

خــدائے خبــر جانانــه دا بــه څـهٔ کيــږي
بــې لــه تــا مــې صـبر د زړهٔ نـهٔ کيــږي

چـــرې دې زمـــا پوښـــتنه اونـــهٔ کـــړه
تانــه مـــې بـــس دا يـــوه ګيلــه کيــږي

پوهه شه اشنا په سترګو سترګو کښې
کلـه د زړګي قيصـې پـه خولـه کيـږي

مــونږ چــې بيلـوي رحــم ئــې نـهٔ راځــي
ډيـره مــې دې خلقـو تـه غصـه کيـږي

خــوب کښــې ئــې لايقــه ليــونے ديــدن
شــکر دے چــې ټولــه شـپه کيـږي

✵ ځائے : ګلشن اقبال کراچي
✵ نېټه :- ۱۱ / اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

ګوره چې په تېوقو کښې رښتيا نشې
زار دې شم خفه چرې له ما نشې
زړۀ به زما اوچوي ښۀ پوهېږمه
يه د سترګو توره د بل چا نۀ شې
خبر دے که بل څوک مې پروا نۀ کوي
ګرانې چې بس تۀ رانه جدا نشې
ژوند مې پکار نۀ دے دروغ نۀ وايم
تۀ چې زما سوال نشې دعا نشې
هر ځل د راتلو کوې لوظونه تۀ
ناست دې يم په طمع خو تۀ رانشې
زۀ به دې لايقه هېرومه نه
تۀ چرې بې لوظه بې وفا نشې

---

✵ ځائے : کلاس روم يونيورسټي
✵ نېټه :- ۱۳ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

ستا نه بغير مې دي ازغي خوبونه
د زړګي سره نۀ راځي خوبونه
زما په سترګو کښې مدام غرېبي
دا ستا د مينې لېوني خوبونه
چې تر سحره پورې ستوري شمارم
غم دې زما نه تختوي خوبونه
په نيمه شپه کښې چې مې زړۀ ته راشي
لوبې په ذهن مې کوي خوبونه
لري نسبت چې ورسره د مينې
هغه به څنګه هيروي خوبونه
لائقه عن زۀ تر سحره وينم
هاغه د حُسن پښتواني خوبونه

---

* ځائے : فرنټئير کالوني
* نېټه :- ۱۳ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

سترګې ستا مې نۀ هیرېږي
که هر څو عمر تیرېږي
لکه پرخه په زړګي مې
ستا یادونه راورېږي
ویښ خوبونه مې لیمو کښې
د نظر غوندې غړېږي
هره شپه د جدایۍ مې
په لمبو کښې صبا کېږي
زما زړۀ له چې څۀ راشي
دروغ نه وي رښتیا کېږي
هاغه چغې وهي ژاړي
چې له یاره جدا کېږي

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۱۵ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

دا جـــذبې د محبـــت دي
کـــه صـــدمې د محبـت دي
چــې اشـــنا نــۀ پــوره کيــږي
دا قيصـــې د محبـــت دي
چــې راځــي زمــا پــه شــونډو
دا نغمـــې د محبـــت دي
د فـــراق نــه تـــر وصـــاله
فاصـــلې د محبـــت دي
دا چــې زۀ ئــې تماشــه کــړم
تماشـــې د محبـــت دي
چــې هــر وخـت راځــي لايقــه
زلزلـــې د محبـــت دي

☼ ځائے : کلفټن کراچي
☼ نیټه :- ۲۳ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

نه مې خوب نۀ مې خندا شته
چې غمونه د اشنا شته
محبت به دې پالمه
لاړګونو کښې مې ساه شته
بس په دغې مطمئن یم
چې نظر د چا په ما شته
چې راځي زما په شونډو
نا قراره شان وینا شته
راته حال د زړګي وايه
په زړګي کښې مې سودا شته
ځه خبره ده لایقه
ابتداء کښې انتها شته

✵ ځائے : فرتهٔیر کالوني
✵ نیټه :- ۲۶ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

یا شینکي شینکي باغونه
یا د دشتو تنابونه
بې له تا کله تیرېږي
دا وختونه قیامتونه
ستا له مخه صدقه شه
د خیالونو تفسیرونه
په سلګو کښې مې تیرېږي
سحرونه ماښامونه
په احساس مې راورېږي
رڼې اوښکې بارانونه
جوړوومه تل لایقه
د شعرونو تصویرونه

---

✵ ځائے : فرنټئیر کالوني
✵ نېټه :- ۲۷ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

خوبــه راشــه نيمــه شــپه ده
هـــره ســـاه مـــې زلزلـــه ده
ځنـــګ حـــالاتو لېـــونے کـــړم
دا قيصــــــه ډېـــــره اوږده ده
دا چــې پټــه ده هــر سُــر کښــې
دا زمـــا او ســـتا قيصـــه ده
د ژونـــدون فلســـفه څـــۀ ده
بـــس نيمګـــړې شـــان ټپـــه ده
پـــه فکرونـــو راخـــوره مـــې
ســـتا د حســـن دبدبـــه ده
دا دروغ نـــــۀ دي لايقـــــه
مينـــه لويـــه مرتبـــه ده

✵ ځائے : فرتټئير کالوني
✵ نېټه :- ۲۷ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

چې شوخي دې کړي ګډا په رخسارونو
جوړوي نوې دنیا په رخسارونو
ښهٔ پوهیږمه چې زهٔ ئې خیال ته راشم
تبسم ئې شي ګویا په رخسارونو
قتلوي مې په سینه کښې ارمانونه
ستا خوږه خوږه خندا په رخسارونو
د زړګو پټې خبرې الول شي
په دنیا کښې د دنیا په رخسارونو
انتها د لېونتوب ورته مسکئ شي
چې خوره شي ابتدا په رخسارونو
شاعرئ هله مسکا اوکړي لایقه
راخوره چې شي مسکا په رخسارونو

✵ ځائے : یونیورسټي لائبریري
✵ نېټه :- ۲۸ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

دا چې زما او ستا کوي خبرې
د کلي خلق جوړوي خبرې
دا ستا ريبار هم عجيبه غوندې دے
چې کله راشي هيروي خبرې
په زړۀ دې پوهه يم ماشوم نۀ يمه
اوښکې دې څله پټه وي خبرې
په غمازانو چې باور اونکړې
زمونږ د دواړو ورانوي خبرې
چې په خندا شي د ګلاب په شانتې
په نرمو شونډو ګډوي خبرې
اول ئې وئيل چې يمه ستا لايقه
اوس ښۀ پوهيږم بدلوي خبرې

✵ ځائے : يونيورسټي لائبريري
✵ نېټه :- ۲۸ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

یــادوم چــې کلــه کلــه تیــر وختونــه لېــوني
پــه زړهٔ مــې راوریــږي قیامتونــه لېــوني
خــوره مــې پــه جـذباتو عجیبـه نـاقراري شــي
پــاریږي مــې سـینه کښــې ارمانونــه لېــوني
ځواني ده بې غمي ده خو خوبونه رانه تښتي
خــوریږي پــه احســاس مــې ګمانونــه لېــوني
د یــو بــل پــه جـذبو بانـدې پوهېږمـه پـوهیږي
فکرونــه لېــوني زمــونږهٔ زړونــه لېــوني
اخربه ستاپه یاد کښې راته ښکاریږي لېونے شم
تـاویږي چـې د خیـال نـه مـې دردونـه لېـوني
لایقه چې پښتو زما په پښو کښې زولنې شوه
حــالاتو لېونــو مــې کــړهٔ شــعرونه لېــوني

---

❋ ځائے : فرتتهئیر کالوني
❋ نېټه :- ۳۰ اکتوبر ۱۹۸۰ء

○

نن بيا ولې خفه شوې په وړه غونډې خبره
خفه شوې سره لمبه شوې په وړه غونډې خبره
ما کړے صرف اقرار وو ستا د پاکې مينې کړے
اشنا ولې غصه شوې په وړه غونډې خبره
ما هر ځلې پخلا کړې خو چې زهٔ درنه خفه شوم
تهٔ لاړې پښتنه شوې په وړه غونډې خبره
دنيا د ارمانونو مې حالاتو کړله ورانه
زما وې زما نهٔ شوې په وړه غونډې خبره
ګلاب ګلاب خبرې دې ازغو کښې شوې بدلې
بې سُره زمزمه شوې په وړه غونډې خبره
چې نن مې درته اووے ستا لايق يم که پوهيږې
خپل ځان ته په کاتهٔ شوې په وړه غونډې خبره

---

❉ ځائے : يونيورسټي کلاس روم
❉ نېټه :- ۳۱ اکتوبر ۱۹۸۱ء

○

تــــهٔ پــــه څــــهٔ رانــــه خفــــه ئــــې
ماتــــه نــــهٔ ګــــورې غصــــه ئــــې
ځکــــه زړهٔ مــــې دے درکــــړے
زمــــا زړهٔ وې زمــــا زړهٔ ئــــې
زړهٔ دې څــــهٔ وائــــي جانانــــه
تــــهٔ چــــې ماتــــه پــــه کاتــــهٔ ئــــې
هــــره ســــاه مــــې درنــــه زار شــــه
تــــهٔ زمــــا د زړهٔ دمــــه ئــــې
تــــهٔ د ځانــــه څــــهٔ خبــــر ئــــې
لېــــوني څــــومره خــــوږه ئــــې
زهٔ لایــــق دې نغمــــه ګــــر یــــم
تــــهٔ زمــــا د ژونــــد تپــــه ئــــې

* ځائے : یونیورسټي لائبریري
* نېټه :- ۴ نومبر ۱۹۸۰ء

○

کلــي کښــې چــې ســتا خبــرې کیــږي
دا لکـــــه زمـــــا خبـــــرې کیـــــږي
مـــا چـــې د زړګـــي حالونـــه اووئیـــل
اوس بـــه خامخـــا خبـــرې کیـــږي
مینـــه چـــې اشـــنا کلـــه مجبـــوره شـــي
ســترګو کښــې پــه غــلا خبــرې کیــږي
مـــونږه چـــې احســـاس او شـــعور نـــۀ لـــرو
څنـــګ بـــه د حیـــا خبـــرې کیـــږي
نـــن دې څـــۀ مطلـــب د ے راتـــه اووایـــه
بیـــا ســـره بـــه بیـــا خبـــرې کیـــږي
مـــا بانـــدې لایقـــه ســـرې لمبـــې لګـــي
بیـــا د بـــې وفـــا خبـــرې کیـــږي

✵ ځائے : یونیورستي لائبریري
✵ نېټه :- ۴ نومبر ۱۹۸۱ء

○

ستا غمونه زورور دي
قيامتونه زورور دي
چې مونږ نۀ پرېږدي يو بل ته
دا وختونه زورور دي
تار په تار کړي ګريوانونه
بهارونه زورور دي
لېونی دا ستا د مخه
ښائستونه زورور دي
تا له ما کړي مروره
ګمانونه زورور دي
چې لايقه هر څۀ وائي
غزلونه زورور دي

---

✵ ځائے : مهاجر کيمپ کراچي
✵ نېټه :- ۲ نومبر ۱۹۸۰ء

○

خوب ئې وړے دے زما نه
ځکه یمه پریشانه
لیونے لیونے ګرځم
ورپسې یم سرګردانه
څومره زۀ درباندې ګران یم
رښتیا اووایه جانانه
ما له ځانه پردے نکړې
زما څوک دي بې له تانه
چې له تا کړمه زړۀ صبر
دا قیصه ده ډېره ګرانه
نن ئې اووئیل لایقه
ماته ګران ئې د هر چا نه

---

✵ ځائے : مچهر کالوني کراچي
✵ نېټه :- ۷ نومبر ۱۹۸۰ء

○

خپـر د ے کـه غریـب یـم خـو پښـتون یمـه
ســتا د لېــونیٔ مینـــې مجنـــون یمـــه
زار دې شـــمه تـــۀ چـــې راســـره نـــۀ ئـــې
کلـــه پـــه قـــرار او پـــه ســـکون یمـــه
رابـــه شـــي راځـــي بـــه عقیـــده لـــرم
زۀ پـــــه انتظـــــار د صـــــباؤن یمـــــه
ما نه چې ئې زړۀ په چل کښې وړے دے
زۀ د هاغـــه ســـترګو پـــه لټـــون یمـــه
زړۀ کښـــې چـــې جـــذبې د محبـــت لـــرم
ژوبـــل ژوبـــل ځکـــه انـــدرون یمـــه
زۀ لایـــق چـــې ســـتا ســـترګو تـــه ګورمـــه
پوهـــه پـــه رازونـــو د ژونـــدون یمـــه

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۸ نومبر ۱۹۸۰ء

○

چې خوبونه تښتوي جانانه
په ما اورونه بلوي جانانه
وایه چې ستا په زړګي څۀ تیریږي
چې کله ما رایادوي جانانه
زۀ چې دې هر وخت یادوم په مینه
تۀ به مې څنګه هیروي جانانه
ما خو دې ټول نازونه وړي
بیا مې تۀ ولې زوروي جانانه
لکه زما به تۀ هم غلې
ځان لکه شمع سوزوي جانانه
زۀ دې لایق یمه بدل نۀ یمه
تۀ سترګې ولې بدلوي جانانه

✵ ځائے : یونیورسټۍ ته په لاره
✵ نېټه :- ۸ نومبر ۱۹۸۰ء

○

بغيـــر لــه تــا مــې زنـدګي ګرانــه ده
ګرانـــه ده ډېـــره جـــدائي ګرانـــه ده

د بغـــاوت پـــه چـــل پوهيږمـــه خـــو
راتـــه د کلـــي رســـوائي ګرانـــه ده

هـــره لمحـــه مـــې پـــه لمبـــو تيريـــږي
ګرانـــه ده ګرانـــه تنهـــائي ګرانـــه ده

چـــې پـــه خوبونـــو زمـــا لـــوبې کـــوي
بـــې وفـــا اوس بـــې وفـــائي ګرانـــه ده

چـــې نـــۀ وي نـــوم پکښـــې د يـــار لائيقـــه
ليکنـــه ګرانـــه شـــاعري ګرانـــه ده

---

❋ ځائے : فرنټيئر کالوني
❋ نېټه :- ۵ دسمبر ۱۹۸۰ء

○

ساده غوندې سړے ووم په انکار نۀ پوهيدم
جذبې مې لېونۍ وې په اقرار نۀ پوهيدم
دا ځکه هره ساه مې بې قراره تا پسې وه
بې صبره کلي وال ووم په قرار نۀ پوهيدم
کلونه پس چې خواله په سلګو کښې زما راغله
کتل مې ښکته ښکته په اظهار نۀ پوهيدم
چې تا پسې روان ووم خبر له ځانه نۀ ووم
شوې خپې زما تنها کې خو په لار نۀ پوهيدم
هر څو که هر چا وئيلې چې راغلے پسرلے دے
بې تانه د زړۀ سره په بهار نۀ پوهيدم
خدائے خبر لايقه چې دا څۀ رابانددې اوشو
يقين چې مې ګمان شو په اتبار نۀ پوهيدم

---

✵ نېټه :- ۱۱ جنوري ۱۹۸۱ء

○

چې خوبونه مې ليمو کښې چورلکونه خوري جانانه
ارمانونه مې ککو چورلکونه خوري جانانه
چې مې ستا تصور يوسي په زړګي مې زلزله شي
تصويرونه مې سلګو کښې چورلکونه خوري جانانه
تصور دې غلے غلے داسې راشي د زړۀ کور ته
لکه خيال مې په لېمو کښې چورلکونه خوري جانانه
خوره په هر احساس مې هسې رنګه شي ستا مينه
لکه سُر چې په نغمو کښې چورلکونه خوري جانانه
ستا غم دے چې زما دے لکه سيورے راسره وي
روح مې ستا په موسيدو کښې چورلکونه خوري جانانه
دا چې ستر ګه زما رپي جوړ لايقه زۀ وريا د شوم
ځکه خيال په رنګينو کښې چورلکونه خوري جانانه

✵ نېټه :- ۷ جنوري ۱۹۸۱ء

○

چــې خپــل لوظونــه درنــه هيــر نشــي
زمـــا غمونـــه درنـــه هيـــر نشـــي
مــنم چــې تــۀ بــه نــور مخونــه وينــې
خــو تېــر وختونــه درنــه هيــر نشــي
د غمــو ســتركو هــر ســتم دې مــنم
خــو چنارونــه درنــه هيــر نشــي
د ښائســتونو پــه ســپرلو مئينــې
مــړاوي ګلونــه درنــه هيــر نشــي
پــه ســپين رخســار د رڼــو اوښــكو اشــنا
لمبــه رنګونــه درنــه هيــر نشــي
چــې زۀ لايــق ئــې ســتا پــه نــوم ليكمــه
هاغــه شــعرونه درنــه هيــر نشــي

---

٭ ځائې : يونيورسټئ ته په لاره
٭ نېټه :- ۱۵ جنوري ۱۹۸۱ء

○

چـې رقیبـانو بیـا جرګـه کـړې ده
زمـونږ د سـر ئـې فیصـله کـړې ده
داسې ښکاریږي چې راځي به اشنا
لیـوني زړۀ مـې زلزلـه کـړې ده
مـا درتـه ټـول عمـر خنـدلي اشـنا
چـې کلـه تـا راتـه غصـه کـړې ده
اوس مې د صبر نور همت نۀ کیږي
د خیـال دردونـو مـې لمبـه کـړې ده
اوس کـه تـۀ نـۀ وائـې پـروا نشـته د ے
مـا تـه ریبـار ټولـه قیصـه کـړې ده
ځکـه ئـې پـه مـخ رنګونـه لـوبې کـوي
لایقـه بیـا ئـې بهانـه کـړې ده

✵ ځائے : یونیورسټي
✵ نېټه :- ۱۵ جنوري ۱۹۸۱ء

○

غټې سترګې زلفې جال
هر قدم ئې د کمال
د ے زما د زړۀ قاتل
ستا د غونډې زنې خال
ستا په طمع هره شپه
نۀ تيريږي لکه کال
که څو يمه زهير
مطمئن دي يم په خيال
ګريوان څيري وار خطا
دا دي حال د ے دا مې حال
د لايق هره خبره
ناتمامه غونډي سوال

---

✵ ځائے : فرنټئير کالوني کراچي
✵ نېټه :- ۱۷ جنوري ۱۹۸۱ء

○

ما چې په چا باندې باور کړے دے
هغـــهٔ زمـــا د زړهٔ کنـــډر کـــړے دے
د زړهٔ صـــحرا بـــه مـــې ګلونـــه ســـپړي
ما پکښې ستا د حُسن کر کړے دے
پـــه لاره ځمـــه ګـــوتې شـــمارمه زهٔ
جـــوړ محبـــت پـــه مـــا اثـــر کـــړے دے
بيـــا د رقيـــب ســـره مـــې ســـتا پـــه نامـــه
د لېونتـــوب پـــه ژبـــه شـــر کـــړے دے
د رغيـــدو اميـــد مـــې نشـــته اشـــنا
پرهـــر زخمونـــو مـــې پرهـــر کـــړے دے
لايقـــه ځکـــه يـــم ســـلګو نيـــولے
هـــر يـــو ســـتم ئـــې پـــه هنـــر کـــړے دے

✵ ځائے : فرنټئير کالوني کراچي
✵ نېټه :- ۱۷ جنوري ۱۹۸۱ء

○

چې ککو کښې مې د حسن نظر نشته
په خوبونو کښې مې هاغه اثر نشته
دا دنیا مې پسې تهوله اوکتله
دلبر شته ولې د مینې دلبر نشته
تۀ نکریزې ځله غواړې په سلګو کښې
خبر نۀ ئې چې دې چم کښې اختر نشته
نۀ پوهیږمه چې څنګه به زما شي
په قسمت کښې زما دغه هنر نشته
په خندا ئې راته بیا اووئے لایقه
ستا نصیب کښې د رنګونو ګوهر نشته

✵ ځائے : یونیورسټي لائبریري
✵ نیټه :- ۲۰ جنوري ۱۹۸۱ء

○

خوبــه راشــه چــې اوده شــم
د جانـــان پـــه تماشـــه شــم
غتهــې ســترګې كــړم رايــادې
زه چــې كلــه هــم خفــه شــم
ائينـــه راپـــورې خانـــدې
زه چــې ځــان تــه پــه كاتــه شــم
زړه در كومـــه پـــه دې مينـــه
دريغــه دريغــه كــه دې زړه شــم
هــره ســاه مــې وار خطــا شــې
چــې ســتا لــور تــه پــه درتلــه شــم
كـــه زمـــا شـــوې تـــه لايقـــه
يقـــين اوكـــړه زه بـــه تـــه شــم

※ ځائے : فرنټئير كالوني كراچي
※ نېټه :- ۲۹ جنوري ۱۹۸۱ء

○

خوبونه مې لیمو کښې خپه نیولي غونډې دي
اهونه مې سلګو کښې خپه نیولي غونډې دي
ستا خیال او تصور پسې په شاته ګورم
دردونه مې ککو کښې خپه نیولي غونډې دي
دا زۀ چې درته داسې نن په زېر کتلے نشم
وختونه مې جذبو کښې خپه نیولي غونډې دي
پښتون یمه جانانه درته خوله مې نۀ جوړیږي
سوالونه مې غوښتو کښې خپه نیولي غونډې دي
دا ولې نن زما د ارمانونو دنیا ګۍ ته
یادونه دې راتلو کښې خپه نیولي غونډې دي
لایقه د زړۀ حال ځکه پوره وئیلے نشم
خیالونه مې لیمو کښې خپه نیولي غونډې دي

---

❋ ځائے : ناظم آباد کراچي
❋ نېټه :- ۳ فروري ۱۹۸۱ء

○

چې ولاړه وې سحر په دروازه کښې
پریشانه لېمهٔ تر په دروازه کښې
مجبوري ده دیدنونه چې مو کیږي
غلي غلي په هنر په دروازه کښې
ریبار هم راته په چغو په ژړا شو
نن چې رائې کړو خبر په دروازه کښې
مازیګر په بلې داسې مهٔ اودریږه
هسې نه چې جوړ شي شر په دروازه کښې
ځنګه بل لور ته کتے شمه لایقه
چې قید شوے مې نظر په دروازه کښې

---

✵ ځائے : فرنټئیر کالوني کراچي
✵ نېټه :- ۴ فروري ۱۹۸۱ء

○

خــوب مــې نــهٔ راځــي لېمــو تــه
د لیمـــــو پـــــه لار ککـــــو تـــــه
زهٔ حیــــران یــــم د مــــودو نــــه
د مئــــــین زړهٔ زلزلـــــــو تـــــه
لــــړ خــــو خیــــال رابانــــدې اوکــــه
لــــړ مــــې اوګــــوره پښــــتو تــــه
چــــې زمــــا نــــوم درتــــه واخلــــي
څــــهٔ بــــه وائــــې ,, زولنــــو ،، تــــه
ټــولې ټــولې ســتا پــه نــوم دي
لــــړ مــــې اوګــــوره جــــذبو تــــه
هــــر وخــــت ګورمــــه لایقــــه
خپلــــو ســــترو مجبــــورو تــــه

* ځائې : فرنټئیر کالوني کراچي
* نېټه :- ۱۰ فروري ۱۹۸۱ء

○

بيا مې لېونۍ کلي کښې نشته دے
هاغه درخانۍ کلي کښې نشته دے
ځکه مې دي زړۀ باندې تيرې خورې
نشته دے سپوږمۍ کلي کښې نشته دے
بې له تا جانانه ټول غمونه دي
نشته خوشحالي کلي کښې نشته دے
بې ستا د ساده بادهٔ حېران نظر
نورې حېرانۍ کلي کښې نشته دے
تا چې ئې مدام نازونه وړي دي
نن هاغه جينۍ کلي کښې نشته دے
ټولې کوڅې ښارې دي لايقه نن
دا چې ګل غوټۍ کلي کښې نشته دے

---

✵ ځائے : منګو پير کراچي
✵ نېټه :- ۱۱ فروري ۱۹۸۱ء

○

زمــونږ تــر منځـــه رانــزدې فاصـــلې
د زړګـــي ســـره دي لمبـــې فاصـــلې
بیـا تهولـه شـپه دا سـتا پـه طمـع طمـع
مـــا شـــمارولې زلزلـــې فاصـــلې
لامــو د یــو بــل نــه ډېـر لـرې سـاتي
دغـــه خودســـره پښـــتنې فاصـــلې
پـــه چغـــو چغـــو ژړیدمـــه بـــه زۀ
چـې مـې خیـالونو تـه راتلـې فاصـلې
زمـــا او ســـتا خبـــرې لاړې اشـــنا
شـــوې د وختونـــو فیصـــلې فاصـــلې
راځـــي مـــې ســـترګو تـــه اکثـــر لایقـــه
د نظرونـــــو قـــــافلې فاصـــــلې

---

❋ ځائے : فرنټئیر کالوني کراچي
❋ نېټه :- ۲۳ فروري ۱۹۸۱ء

○

ګرانـــــې شـــــپې د جـــــدايۍ دي
د تهمـــــــت او رســــــوايۍ دي
تــــهٔ خبـــر لـــه مـــا نـــه نـــهٔ شـــوې
زمـــا ځـــومره مجبـــورۍ دي
ســـتا دا غټـــې غټـــې ســـترګې
مـــې محـــور د شـــاعرۍ دي
د قيامـــــت پښـــــان تيريــــږي
ځـــــهٔ لمحــــې د تنهـــايۍ دي
کيــــږي مـــونږ پســــې خبـــرې
کـــه دي خپلـــې کـــه پـــردۍ دي
ټـــول شـــعرونه مـــې لايقـــه
امانـــــــت د ليــــــونۍ دي

✵ ځائے : يونيورسټي ته په لاره
✵ نېټه :- ۱۸ فروري ۱۹۸۱ء

○

ټوله شپه په طمع طمع
اشنا لارې دې څارمه
دا ستا مینه زما زړهٔ کښې
خدائے دې نکړي چرې کمه
تختیدلي مې خوبونه
لېونی دا ستا د غمه
دا څهٔ چل دے حیرانیږم
چې بیا بیا تاله راځمه
چې مې څومره زندګي وي
پت د مینې به پالمه
د لایق لېونی سترګې
همېش ډکې وي له نمه

✵ ځائے : فرنټئیر کالوني کراچي
✵ نېټه :- ۸ مارچ ۱۹۸۱ء

○

چې زړۀ دې نۀ وو نو خندل دې ثلـه
پــه مینـــه مینــه راکتـــل دې ثلـــه
چې دې وعـده خپلـه پـاللې نـۀ شـوه
د زړګـــي سـره نــو وئیـــل دې ثلـــه
چـــې زۀ دې اولیـــدم فکرونـــو یـــوړې
بـــــلا دې واخلمـــــه ژړل دې ثلـــــه
تــا مــې د زړۀ د بــې خــودۍ تارونــه
ګنـــډلې نـــۀ شـــو نـــو چیـــړل دې ثلـــه
زمـــا د ســـترګو لېـــوني خوبونـــه
داسې چـل چـل کښې تختـول دې ثلـه
چـــې د اشـــنا نـــوم دې لـــیکلې نشـــو
لایقــــه خلــــق خبـــرول دي ثلــــه

✵ ځائې : یونیورسټي لائبریري
✵ نېټه :- ۴ مارچ ۱۹۸۱ء

○

زۀ چې په يو کلي کښې تا نۀ وينم
داسې راته ښکاري دنيا نۀ وينم
خدائے خبر څۀچل دے نۀ پوهيږمه
بيا د ګل په مخ چې خندا نۀ وينم
بيا راته خبرې د صبا کوې
عمر مې تيريږي صبا نۀ وينم
ما ته چې اشنا په مينه اووائي
داسې څوک د مينې اشنا نۀ وينم
دا ګناه مې بس ده چې مئين يمه
ځان کښې بله داسې ګناه نۀ وينم
دا لېونے زړۀ به مې بس ته ق اوچوي
نورلايقه زور د جفا نۀ وينم

---

✵ ځائے : يونيورسټي کلاس روم
✵ نېټه :- ۷ مارچ ۱۹۸۱ء

○

څـــــهٔ زمـــــا د زړهٔ دردونــــــه
څــــهٔ د خلقـــــو پېغورونــــــه
شـــو راپـــورې ســـتا لـــه مخـــه
دې پـــــر جانانـــــه تهمتونــــــه
ســـتا پـــه غـــم کښـــې صـــبا کيـــږي
ســـــتړي ســـــتړي ماښـــــامونه
پـــه کمـــــزوري زړګـــــي وړمـــــه
ســـــتا درانــــهٔ درانــــهٔ غمونــــه
بلوۀمـــه ســـتا پـــه يـــاد کښـــې
تـــــل د اوښـــــکو چراغونــــــه
څــــومره خونـــد کـــوي لايقـــه
محبــــــت کښـــــې منتونــــــه

✵ ځائے : يونيورسټي لائبريري
✵ نېټه :- ١٧ مارچ ١٩٨١ء

○

دي جـــذبې مـــې نـــاقراره
ســتا پــه مینــه ســتا دپــاره
تــهٔ بــه کلــه ســرته رســې
د ټــول عمــر انتظــاره
نــن چــې مخــې تــه مــې راغلــه
پــه ســلګو شــوه بــې اختیــاره
د لمبــو پــه ســر تیریــږي
دا وختونــه بــې دیــداره
هــر یــو خــوب مــې پــه لیمــو کښــې
لــه مــودو د ے نــاقراره
کــه نــور هــیڅ نــهٔ وي لایقــه
پــاګلانو کښــې مــې شــماره

---

✵ ځائے : کلفټن کراچي
✵ نېټه :- ۲ مئی ۱۹۸۱ء

○

لکـــه چـــې ځـــان خـــوږ د ے
داســـې جانـــان خـــوږ د ے

تـــل مـــې پـــه زړۀ کښـــې اوســـي
لکـــه ارمـــان خـــوږ د ے

د يـــو اشـــنا لـــه مخـــه
راتـــه جهـــان خـــوږ د ے

پـــه محبـــت کښـــې چـــې وي
هريـــو تـــاوان خـــوږ د ے

هـــر يـــو نظـــر د اشـــنا
حيـــران حيـــران خـــوږ د ے

خیــال مــې تپــه تپــه کــړي
لکـــه بـــاران خـــوږ د ے

ســـتا د نـــادانې مینـــې
هـــر یـــو داســـتان خـــوږ د ے

ذ کـــر ئـــې ښکـــه اوکـــړم
څـــۀ پـــه بـــل شـــان خـــوږ د ے

لایـــق دروغ نـــۀ وائـــي
یـــار پـــه ایمـــان خـــوږ د ے

## شعر

پــه خنــدا شــوه بیــا ئــې غلــي راتــه اووو ے
داســې ښــکاري پــه رښــتیا بانــدې ګــله وه ئــې

# پرهر پرهر

## ( د سندرو برخه )

په دې برخه کښې هاغه ساندې دي کومو چې زما د سترګو نه خوبونه تختولي دي.

کــه ســندره ربــاعي ده کــه غــزل دے
همــه واړه ســتا لــه نومــه صــدقه شــه

لايق زاده لايق
کراچۍ

# د کلي مازیګر

کـه کراچـۍ کښـې رنګینـۍ ډېـرې دي
شـوخي ده دیـره هـم مسـتۍ ډېـرې دي
ماتــه مــنګې ماتــه ګــودر یــادیږي
ماتـــه د کلــــي مـــازیګر یـــادیږي

زمـا پـه سـترګو کښـې غرېـږي مـدام
هاغــه خــاؤرین هاغــه کچــه کورونــه
زمـــا د خیـــال نـــه د وتلـــو نـــۀ دي
هاغـــه خـــوارۀ ســـاده بـــاده کورونـــه
یـــاران د ژونـــد راتـــه اکثـــر یـــادیږي
ماتـــه د کلــــي مـــازیګر یـــادیږي

هاغــه بــې غمــه بــې پــروا ګرځیــدل
هاغـــه د مینـــې پـــه ټـــالونو ځانګـــل
هاغــه د مــور او پــلار نیــازبینې غصــې

هاغه له قصده په خندا کښې ژړل
ماته هر ګل هر يو ډنډر يادېږي
ماته د کلي مازيګر يادېږي

که په هر لور محبتونه ډېر دي
خو زما عمر په ازغو تيرېږي
مسافري مې ژړوي لايقه
وختونه ټول مې په سلګو تيرېږي
راته ورېمه ورېمه سحر يادېږي
ماته د کلي مازيګر يادېږي

* * *

زړګيه صبر شه ژړا پرېږده
پرېږده غمونه د اشنا پرېږده
په خوله حالونه زۀ وئيلے نشم
جنونه لږ مې يک تنها پرېږده

---

✵ ځائے : اردو لاء کالج کراچي
✵ نېټه :- ۳ / اګست ۱۹۸۰ء

# لټون

ښائست دے راټول شوے د جانان لټون کومه
د ځان لټون کومه
په دغه هنګامو کښې د ارمان لټون کومه
د ځان لټون کومه

هر څو که یم په ښار کښې ، نظر مې کلي وال دے
دا ځکه وارخطا یم ، دا ځکه مې بدحال دے
په دغه شور ماشور کښې د کاروان لټون کومه
د ځان لټون کومه

پوهیږمه چې دلته ، خوبونه رانه ورک دي
د چا د پاکې مینې ، رنګونه رانه ورک دي
یقین رانه ورک شوے د ګمان لټون کومه
د ځان لټون کومه

لايقــه پــه هــر لــوري ، د حُســن خــا پيرۍ دي
د ژونـد پـه رنګينـو کښـې را ټـولې ګـل غـوټۍ دي
چــې شــاته شــاته ګــورم د يــو ګــران لټــون کومــه
د ځان لټون کومه

## لمبه

د زړۀ ســـره مـــا خـــو هـــيڅ وئيلـــي نـــۀ وو
ولـــې داســـې تـــۀ پـــه ټوقـــو چـــې خفـــه شـــوې
پـــه رخســـار دې بيـــا رنګونـــه ســـره لمبـــه شـــو
څـۀ چـې داسـې د غصـې نـه تکـه سـره شـوې

* ځائے : کلفټن کراچي
* نېټه :- ۱۳ اګست ۱۹۸۱ء

# خوب

سپرلے د خپل وطن مې په لېمو کښې غړېدو
بیګاه مې خوب لیدو
ستا حُسن لکه سیورے راسره به ګرځېدو
بیګاه مې خوب لیدو

وو هاغه چنارونه ، هم هاغه مازیګر وو
هم هاغه ستا نخرې وې ، مسکے زما نظر وو
چراغ د محبت په مزارونو بلیدو
بیګاه مې خوب لیدو

چې تا د مینې نخښې ، په مینه راکولې
کتل دې ښکته ښکته ، له ما نه شرمیدلې
زړګے دې په سینه کښې بې اختیاره درزیدو
بیګاه مې خوب لیدو

راغونـدې فرشـتې وې ، زمـونږه تماشـې تـه
وختونـه تـول حيـران وو ، د مينـې زلزلـې تـه
بـورا د ګـل پـه پـاڼو غلـے غلـے غوړيـدو
بيګـاه مـې خـوب ليـدو

چې سترګې مې شوې خلاصې،هم هاغه جدائي وه
هـم هاغـه پـه جـذبو مـې خـوره نـاقراري وه
لايقـه پـه احسـاس مـې سـتا ارمـان راوريـدو
بيګـاه مـې خـوب ليـدو

## خيال

شـو خوبونـه مـې اورونـه پـه ليمـو کښـې
د زړۀ سـره چـې بيګـا مـې خيـال تـه راغلـې
دا چـې هـره يـو سـاه مـې وار خطـا شـوه
ښـۀ پوهيږمـه چـې بيـا مـې خيـال تـه راغلـې

✵ ځائے : يونيورسټۍ ته لاره
✵ نېټه :- ۱۵ اګست ۱۹۸۱ء

# ګمانونه

چې تاته اوګورم نو زړۀ مې وارخطا شي
ډېر ګمانونه مې پېدا شي
په هر نظر کښې چې شوخي کله سېوا شي
ډېر ګمانونه مې پېدا شي

تا مې خوبونه وړي
تا مې خيالونه وړي
تا مې فکرونه وړي
اوس چې ستا مينه کله کله په بل چا شي
ډېر ګمانونه مې پېدا شي

څۀ مجبوري ده زما
څۀ بې وسي ده زما
مسافري ده زما

چې دې شوخي کله ليمو کښې په خندا شي
ډېر ګمانونه مې پېدا شي

پوهيږم څۀ پوهيږم
لايقه نۀ پوهيږم
دومره په زړۀ پوهيږم
دا لېونے چې مې سينه کښې په درزا شي
ډېر ګمانونه مې پېدا شي

## بې صبري

زۀ له تا نه خفه نۀ يم زما مينې
دا مې سوال دے تۀ له ما مۀ خفه کيږه
بې صبري دې داسې ښۀ ده اے زړګيه
مۀ صبريږده مۀ صبريږه مۀ صبريږه

---

※ ځائے : يونيورسټي کلاس روم
※ نېټه :- ۱۵ اګست ۱۹۸۰ء

# کافر

چـــا وئيلـــي ډېـــر پخـــوا دي فريـــده
غلـــې کينـــه چپـــه خولـــه دې بهتـــري ده
راپريـــوځې کـــه د کرښـــې نـــه بهـــر شـــوې
کـــه رښـــتيا دې چاتـــه اووئـــې نـــو کـــافر شـــوې

سترګې شـته خـو پـه ککـو کښـې نظـر نشـته
احســـاس شـــته خـــو د جـــذباتو قـــدر نشـــته
کـــه صـــفا دې چاتـــه اووئـــې نـــو کـــافر شـــوې
کـــه رښـــتيا دې چاتـــه اووئـــې نـــو کـــافر شـــوې

تپـــوس نشـــته خـــو بـــس لاس د بـــري کـــار دے
کـــوي خپلـــه کـــه افســـر کـــه څوکيـــدار دے
کـــه هـــم دا دې چاتـــه اووئـــې نـــو کـــافر شـــوے
کـــه رښـــتيا دې چاتـــه اووئـــې نـــو کـــافر شـــوې

پــــه هــــر لــــور دي د وختونــــو فريبونــــه
يقــــين ورک د ے ســــيوا کيــــږي ګمانونــــه
کــه اشــنا دي چاتــه اوو ے نــو کــافر شــوي
کــه رښــتيا دي چاتــه اووئــے نــو کــافر شــوي

نــــځ پوهيږمــــه لايقــــه دا ځــــځ چــــل د ے
هــــر انــــداز د زمــــانې بــــدل بــــدل د ے
لېــونے بــه شــي کــه نــور ځــځ نــه خبــر شــوي
کــه رښــتيا دي چاتــه اووئــے نــو کــافر شــوي

## لمن

د حــــالاتــــو عجيبــــه غونــــدې قــــانون د ے
چــې رښــتيا وئيــل رښــتيا لويــه ګنــاه ده
ځــــځ پــــروا د دنيــــاګۍ راســــره نشــــته
چــې لمــــن د بــــې خــــودۍ نيــــولې مــــا ده

# نکريزې

نکريــزې چــې پــه ســپينو ليچــو لګــوم
ســتا نــوم تــرې جــوړوم
رنګونـــه چـــې د ژونـــد د پســـرلو راټولـــوم
ســتا نــوم تــرې جــوړوم

احساس له چې د مينې په زانګو کښې جوتې ورکړم
ارمـان لـه چې د حسـن په نغمـو کښـې جوتې ورکړم
لفظونـــه چـــې د خـــوب د تعبيرونـــو لټـــووم
ســتا نــوم تــرې جــوړوم

شوخي چې مې ليمو کښې له خياله په ګډا شي
نازونه چې مې غلي هر خوا ته په مسکا شي
ټالونه چې د زلفو په رخسار راخوروم
ستا نوم ترې جوړوم

لايقه مينه څۀ ده پُر کيفه شان ټپه ده
د زړۀ تارونه چيړي خوږۀ غوندې نغمه ده
خالونه چې د ژوند په رخسارونو لګوم
ستا نوم ترې جوړوم

## ژوندون

ستا تصوير مې په ليمو کښې دے جوړ کړے
تنهايئ کښې ورته حال د زړګي وايم
ژوندون څۀ دے بې عنوانه بې خودي ده
زۀ ددغه بې خودئ په نامه پايم

# شرنګ

چې اوریدلې مې دا ستا د بنګړو شرنګ دے
زړګے مې په غوږ زنګ دے پوهیږم نه دا ولې
چې مې لیدلې ستا د پاکې مینې رنګ دے
زړګے مې په غوږ زنګ دے پوهیږم نه دا ولې

یو دې ځوانې تپه تپه ده بل دې په سترګو کښې نشه ده
چې هره ساه مې وارخطا کړې ښائست دې نۀ دے زلزله ده
په تصور کښې مې ستا خیال لاچې لونګ دے
زړګے مې په غوږ زنګ دے پوهیږم نه دا ولې

ستا محبت زما غیرت دے دا ستا حیا زما عزت دے
زۀ هم ولاړه ستا په ننګ یم دا دروغ نۀ دي حقیقت دے

زمـــا ارمـــان ســـتا د ارمـــان پـــه نـــوم قلنـــګ د ے
زړګـــے مـــې پـــه غورزنـــګ د ے پـــوهيږم نـــه دا ولـــې

تـه مې لايـق ئـې پـه مـا ګرانـه څنـګ بـه صبريږمه لـه تـا نـه
لاس د وفـا پـه نـره راکـه چـې دنيـا ټولـه شـي حيرانـه
زمـــا جنـــون د ادم خـــان د ربـــاب ترنـــګ د ے
زړګـــے مـــې پـــه غورزنـــګ د ے پـــوهيږم نـــه دا ولـــې

---

دغـــه ســـتا د بنګـــړو شـــړنګ د ے زمـــا مينـــې
چـې احسـاس د ليونتـوب مـې پـرې ژوند ے د ے
بـــې لـــه تانـــه د ښائســـت تصـــور ګـــران د ے
ســـتا پـــه فکـــر مـــې بـــوډا فکـــر زلمـــے د ے

# زار شه

زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه
خـــوا کښـــې مـــې کینـــه، مـــۀ ځـــه ایســـار شـــه
زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه

د زړۀ دنیـــا مـــې، پـــه تـــا ودانـــه
تـــۀ بـــه مـــې هیـــر شـــې ډېـــره ده ګرانـــه
زۀ دې ښائســـت یـــم، تـــۀ مـــې ســـنګار شـــه
خـــوا کښـــې مـــې کښـــینه ، مـــۀ ځـــه ایســـار شـــه
زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه

چـــې کـــوم خـــوا ګـــورم ، راتـــه ښـــکارېږې
څنـــګ بـــه صـــبرېږم ، څنـــګ بـــه صـــبرېږې
چـــې مینـــه نکـــړې ، ژونـــد ئـــې پـــه دار شـــه
زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه
مینـــه کـــول هـــم لـــوئې عبـــادت دے

دا حقیقـــــــــت وو دا حقیقـــــــــت د ے
ځـــواني مـــې تېرولـــه ســـتا انتظـــار شـــه
زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه

زۀ دې پښـــتو شـــوم تـــۀ مـــې حیـــا شـــوې
زۀ بـــه ځـــان شـــم کـــۀ تـــۀ زمـــا شـــوې
قربـــان لـــه تـــا مـــې د زړۀ قـــرار شـــه
زار شـــه زمـــا خوبونـــه لـــه تـــا زار شـــه

# اثاثه

ما سره څۀ دي وایه
بس په زخمي زړګي کښې
ستا نازولے تصویر
په مینه مینه ساتم

# ښکار

چې دې کتل په مینه ، چې دې خندل په مینه
اوس راته مهٔ وایه چې صبر شه زمانه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

مینه کول غواړمه ، تا خپلول غواړمه
خو مجبوري ده زهٔ ویریږم د دنیا نه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

د چا پروا نهٔ کوي ، د محبت لیوني
د سره تېر وي مدام ، واړه د پت لیوني
څنګ به صبریږم راته وایه بې له تانه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

د سترګو توره زما ، په ما اتبار به کوې
تا به ګټمه اخر ، خو انتظار به کوې
ستا په خیالونو مې د زړۀ دنیا ودانه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

دا چې خوارۀ راګورې ، لا مې زیاتیږي مینه
په هره ساه کښې زما ، څکه غړیږي مینه
راته یادیږې نۀ هیریږې زما جانه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

زما ساده لایقه ، ستا په وفا مې قسم
ستا په پښتو مې قسم ، ستا په حیا مې قسم
الله دې نکړي چې په مینه شم ستومانه
ستا جدائي ده ډېره ګرانه

# بې وفا

يــوازې دې كــړم پــاتې پــه ســلګو او پــه ژړا
اشـــنا بـــې وفـــا وه اشـــنا بـــې وفـــا
كــړه ورانــه دې زمــا خيــالي دنيــا پــه رښــتيا
اشـــنا بـــې وفـــا وه اشـــنا بـــې وفـــا

د زړۀ نــه مــې چــاپېره، لمبــې د جــدايۍ دي
اورونـــه تندرونـــه ، لمحـــې د جـــدايۍ دي
تـــه كـــوم طـــرف تـــه لاړې راشـــه بيـــا
اشـــنا بـــې وفـــا وه اشـــنا بـــې وفـــا

ليــدلي مــې جانانــه ، مــدام وو ســتا خوبونـۀ
جـوړ كـړي مـې بـلا وو پـه خيـال كښـې محلونـه
لټومـــه دې خاپونـــه د زړۀ ســـره هـــره خـــوا
اشـــنا بـــې وفـــا وه اشـــنا بـــې وفـــا

چې کله شم يوازې ، سپوا شي ستا غمونه
شي سيوري مې ليمو کښې ، د مينې محفلونه
ښکلوؤم د تصويرونه وار خطا وارخطا
اشنا بې وفا وه اشنا بې وفا

تر کومې به تهٔ داسې، زما نه لرې ګرځې
تر څو به راته وايه ، جانانه لرې ګرځې
لايق دې ښاري لارې هر صبا هر بېګاه
اشنا بې وفا وه اشنا بې وفا

# مکر

دنيا څومره ده مکاره لويه خدايه
د انسان په بې وسۍ کوي چلونه
که ده مينه که احساس او که شعور دے
په بې وسه مجبورۍ کوي چلونه

# ملګري

چې کله شم یوازې ستا خیالونه راسره وي
ستا یاد مې وي ملګرے ستا غمونه راسره وي

وئیلې درته نشم چې ئې څومره په ما ګرانه
دنیا مې د خوبونو ده په تا باندې ودانه
چې څمه په کوم لورې ستا فکرونه راسره وي
ستا یاد مې وي ملګرے ستا غمونه راسره وي

خبر نۀ یم چې کله به زما کوئې پوښتنه
له زړۀ مې لمبې خیژي چا پیرېږي له بدنه
چې نوم دې کله اورمه شکونه راسره وي
ستا یاد مې وي ملګرے ستا غمونه راسره وي

چې شمارم کله ستوري زۀ په تورو تورو شپو کښې
ګیلې کوؤم لـه ځانـه پـه ورو ورو سـلګو کښـې
د اوښــکو ســترې ســترې قطارونــه راســره وي
ستـا یـاد مـې وي ملګـرے سـتا غمونـه راسره وي

راځــه چــې نــن د مینــې د وفــا لاســونه ورکــړو
لایقــه پــه رښــتیا چــې د رښــتیا لاســونه ورکــړو
تــر څــو بــه دا نیمګــړي ارمانونــه راســره وي
ستـا یـاد مـې وي ملګـرے سـتا غمونـه راسره وي

## مندر

ما د زړګي په کور کښې
داسې مندر جوړ کړے
چې ښائستونه ورته
تل په سجدو پراته وي
تل سلامونه کوي

# لیوني دردونه

## ( د قطعو برخه )

په دغه برخه کښې هاغه قطعې دي چې هر یو بیت ئې زما د زړۀ د تل آواز دے.

خامخا به څۀ اثر کوي په ښکلو
هر یو بیت چې د زړګي په وینو لیکم

لایق زاده لایق
کراچۍ

چې په تن مې اور بليږي ستا د مينې
راته وايه څنګ به صبر شم له تا نه
تصور د زندګۍ مې دے نيمګړے
بې له تا نه يه جانانه يه جانانه

هغه خوب چې مې ليدلے وو زړګيه
داسې ښکاري هغه رو رو رښتيا کيږي
چې مو مينه په ټول کلي کښې رسوا شوه
ليونۍ به خامخا اوس زما کيږي

په سرو شونډو چې رنګونه په خندا شي
تصور د محبت مې وار خطا شي
زۀ لتانه بغير سوچ کولے نشم
ستا ارمان راته شيرين کله ليلٰى شي

دا مې سوال دے یه زما د ژړګي سره
چې ټول عمر ما له ځانه جدا نکړې
هر ارمان به شي نیمګړے زما پاتې
یو ارمان مې د ارمانه جدا نهٔ کړې

---

چې زما په ارمانونو کوي لوبې
هغه تهٔ وې هغه تهٔ ئې هغه تهٔ ئې
ما خو ستا نازونه ټول وړي په ناز دي
بیا په څهٔ رانه اشنا داسې خفه ئې

---

سوال منت درته کومه اے ژړګیه
په بې ننګه په بې پته مهٔ نازیږه
چې د مینې هر یو سوال له جواب ګوري
په دا رنګه بې سیرته مهٔ نازیږه

خبر دې تهٔ که مې اشنا پوښتنه نهٔ کړې
زهٔ به تل دې یاده وومه بیا سلګو کښې
ستا ارمان لکه د سیوري راسره وي
شي نظر کله خوبونه په لیمو کښې

---

نن بیا راته لیکلي دي چې راشه
لېونۍ د کراچۍ نه خبر نهٔ ده
چې لمحه لمحه ئې اور دے خو تیرېږي
جدائي د جدایۍ نه خبر نهٔ ده

---

لرې لرې د دنیا د خلقو لرې
بس جانانه چې یو تهٔ وې او بل زهٔ وے
محبت مو په زړګو کولې لوبې
نهٔ وے نهٔ وے لېوني فکرونه نهٔ وے

لېونتوبــه چــې زړګــے مــې پــرې ودان دے
هاغــه ښــکلے تصــور مــې د جانــان دے
احســاس څــۀ غــم د دنیــا راســره نشــته
چــې د حســن پــه عظمــت زمــا ایمــان دے

---

زۀ چــې کلــه هــم یــواځې چرتــه کښــینم
ســتا خیالونــه مــې پــه ذهــن راخــوارۀ شــي
بــې خــودي چــې مــې هــم داســې ســېوا کیــږي
خبــر نــۀ یــم لېونتوبــه دا بــه څــۀ شــي

---

تصــور مــې لــرې یوســې کلــه کلــه
پــه احســاس مــې راخــوارۀ شــي ښائســتونه
د جنــون دنیــا مــې ټولــه شــي ویرانــه
چــې رایــاد مــې شــي چینــې او چنارونــه

ما چې کله هم دوه سترګې پټې کړې
ستا خوبونه مې لیدلي د زړهٔ سره
تهٔ چې سترګې بدلوې رانه لایقه
درته چا دي څهٔ وئیلي د زړهٔ سره

---

چې مې اوښکې په ککو الول شي
هره ساه مې ستا په نوم غزل شي
ژوندون څهٔ دے یونیمګړے غوندې خوب دے
چې لمبه شي نو بیا هله مکمل شي

---

د حالاتو په بندونو کښې راګیر یم
خاموشي مې نور څهٔ نهٔ دي بې وسي ده
تهٔ زما نه ګیله مهٔ کوه لایقه
بلا ګرانه په لمبو کښې دلداري ده

کـۀ هــر څــو پــه رڼاګــانو کښــې اوســيږم
خــو د خپــل کلــي رنګونــه راتــه يــاد دي
پــه احســاس چــې زمــا لــوبې کــړي لايقــه
د يـــارانو محفلونـــه راتـــه يـــاد دي

پښـتانۀ چې په سلګو سلګو کښـې وينم
پــه حالــت د پښــتونخوا مــې ژړا راشــي
کۀ هر څو مو مجبوري دي په هر لوري
چرتــه کلــه بــه دا تــوره شــپه صــبا شــي

چــا وئيــل چــې محبــت کــول اســان دي
محبــت خــو د زړۀ وينــې تويــه ول دي
بــې پــروا د خپــل شــعور د حــد نــه لــرې
پــه لمبــو کښــې د لمبــو پــه دار ختــل دي

د خپل ځان په آئينه کښې کله کله
د احساس او د شعور تماشه اوکړم
د دنيا خلقو ته حال وئيلې نۀ شم
خپل ارمان ته د دردونو قيصه اوکړم

---

تا که هر څو په خوله اونۀ وے جانانه
خو زۀ ستا په هر نظر باندې شوم پوهه
چې جنون مې د جنون سره اشنا شو
د اظهار په هر هنر باندې شوم پوهه

---

د ژوندون حقيقت څۀ دے خو بس دا چې
بې عنوانه بې ترتيبه شانتې خوب دے
مونږه بيا هم په دې سترګې حقيقت کښې
کړے هر وخت د ازغو د پاسه خوب دے